جمهوری اسلامی افغانستان
د پوهنې وزارت ۱۳۸۱

هفته نامه
# معارف
اوونیزه

روزل شوي نسل
نیکمرغه افغانستان

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۱۰ ماه حمل سال ۱۳۹۶

## سنگ تهداب انستیتوت ملی تعلیمات تخنیکی و مسلکی افغانستان گذاشته شد

سنگ تهداب کمپلکس تعلیمی انستیتوت ملی تعلیمات تخنیکی و مسلکی توسط جلالتمآب دکتر عبدالله عبدالله رئیس اجراییه کشور، جلالتمآب دکتر اسدالله حنیف بلخی وزیر معارف محترم رحیل محمد فرملی معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف، نماینده کشور دوست جمهوری خلق چین درحالیکه جمع کثیری از استادان و محصلان نیز اشتراک داشتند گذاشته شد.

محترم داکتر عبدالله عبدالله رئیس اجرایی حکومت وحدت ملی از کمک های کشور دوست چین اظهار سپاس و قدردانی کرده و بر دوام کمک های کشور چین خصوصاً در عرصه معارف تاکید ورزید.

سپس محترم وزیر معارف با تشکر از کمک کشور چین در پیوند به اعمار تعمیر مذکور و خوش آمدید مهمانان با بیان اینکه «بازار کار افغانستان نسبت به هر چیز دیگر به متخصصین ماهر و با تجربه ضرورت داشته که وزارت معارف با درک این نیازمندی بسط و گسترش مراکز تعلیمات تخنیکی و مسلکی را نه تنها در مرکز بلکه بصورت متعادل در تمام ولایات، در محراق توجه خویش قرار داده است.» محترم رحیل محمد فرملی



معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف در این باره معلومات ارایه نمود و تاکید کرد که در انکشاف و گسترش تعلیمات تخنیکی و مسلکی پیشرفتهای زیادی صورت گرفته است. متعاقباً نماینده کشور چین نیز اقدامات این وزارت را در راستای انکشاف مراکز تربیوی تعلیمات تخنیکی...

(ص ۲)

## د پوهنې وزیر د چین او جاپان له سفیرانو سره وکتل

د افغانستان د پوهنې ښاغلي وزیر په کابل کې د چین او جاپان له سفیرانو سره وکتل او په اړوندو موضوعاتو یې خبرې اترې وکړې .
د پوهنې وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي د جاپان له سفیر ښاغلي میتسوجي سوزوکا سره په کتنه کې وویل: پوهنې وزارت له ټولو ستونزو سره سره د نړیوالو په مرسته او همکارۍ تل هڅه کړې، چې د افغانستان ټولو سیمو ته ښوونیز او روزنیز خدمتونه ورسوي.
ښاغلي بلخي زیاته کړه: جاپان ددغو ښوونیزو خدمتونو په رسولو کې له پوهنې وزارت سره د تېرو څو کلونو په اوږدو کې خورا



ارزښتمندې مالي او تخنیکي مرستې کړې، چې مننه او قدرداني یې کوي.
کابل کې د جاپان سفیر د افغانستان د پوهنې له نظام سره د خپل هېواد د مرستو پر دوام ټینګار وکړ او له پوهنې وزارت سره یې په بېلابېلو مالي او تخنیکي برخو کې د مرستو او همکاریو ژمنه وکړه.
ښاغلي سوزوکا زیاته کړه، موږ حاضر یو افغان ځوانانو ته په جاپان کې د لوړو زده کړو اسانتیاوې برابرې کړو او د ښوونکو د ظرفیتونو په لوړولو، ښوونځیو ته د نویو ودانیو په جوړولو او په درسي وسایلو د ښوونځیو د سمبالولو په برخه کې د افغانستان له پوهنې وزارت سره مالي مرستې وکړو.
ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي دغه راز په خپل...

(۲مخ)

## پوهنې وزارت له ۳ موسسو سره د ۳۵ میلیون افغانیو په ارزښت تړونونه لاسلیک کړل

د افغانستان د پوهنې وزارت په هېواد کې د ښوونې او روزنې



سیستم د ودې په ځانګړي ډول د تخنیکي او مسلکي او سواد زده کړو د پیاوړتیا او پراختیا په موخه د افغانستان د تخنیکي او مسلکي زده کړو موسسې (ATVO) ، د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختیا اداري (UNIDO) او سنایي انکشافي موسسې سره د څه باندې ۳۵ میلیون افغانیو په ارزښت د مرستو او همکاریو ځلور تړونونه لاسلیک کړل.
یاد تړونونه د پوهنې د وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي او د یادو موسسو د استازو ترمنځ د پوهنې وزارت د غونډو په تالار کې لاسلیک شول .
د پوهنې وزیر ډاکټر اسدالله حنیف بلخي په هېواد کې د سواد او تخنیکي زده کړو د ودې په ځانګړي ډول د ځوان کدرونو د مسلکي مهارتونو د پیاوړتیا او کار مارکېټ کې د ځوانانو د ګمارنې په برخه کې د خلکو او خصوصي سکتور ونډه مهمه وبلله. ښاغلي بلخي د یادو تړونونو د لاسلیک پر مهاَل وویل، چې له ATVO ، UNIDO او سنایي انکشافي موسسې سره په هېواد کې د تخنیکي او سواد زده کړو د ودې او پیاوړتیا په موخه ځلور تړونونه لاسلیک شول، چې ټولیز ارزښت یې ۳۵ میلیونه او ۱۰۶ زره افغانیو ته رسیږي .
ښاغلي بلخي وویل، چې د دې هوکړې له مخې به د ATVO موسسه د کار بازار د غوښتنو پر بنسټ په معیاري ډول ځوانان وروزي ...

(۲مخ)

### سنگ تهداب انستیتوت نسوان مسلکی تجارتی ولایت بغلان گذاشته شد

سنگ تهداب انستیتوت مسلکی نسوان تجارت ولایت بغلان توسط محترم غلام محی الدین پیکان حیدری رئیس معارف ولایت بغلان، نماینده نساجی، نماینده شورای ولایتی ولایت بغلان، نماینده مقام ولایت، گذاشته شد .تأسیس این انستیتوت یک قدم نیک و یک دست آورد بزرگ در جهت تربیت سالم فرزندان کشور بخصوص دختران شمرده می شود . زمین این انستیتوت که ۲۴۵۰ متر مربع می شود و در تپه فرحت موقعیت دارد از طرف رهبری نساجی بغلان در اختیار ریاست معارف قرار داده شده است که یک عمل نیک در جهت تعلیم و تربیت نسل جوان کشور پنداشته می شود...

(ص ۲)

### مکتب متوسطه عاصم شهر هرات افتتاح و به بهره برداری سپرده شد

مکتب متوسطه عاصم شهر هرات توسط محترم محمد آصف رحیمی والی هرات، رئیس معارف و مسوولان معارف افتتاح و بهره برداری سپرده شد.
در ابتداء محترم والی هرات ضمن خوش آمدید مهمان و قدردانی از بنیاد خیریه راه و بام گفتند: «این مکتب از طرف بنیاد خیریه راه و بام که در مطابقت به معماری سنتی در منطقه درب هرات به هزینه ۱۲۰ هزار دالر امریکایی اعمار گردیده، اینک امروز ما شاهد افتتاح آن می باشیم که گام دیگری در جهت بهبود وضعیت نظام آموزشی این ولایت می باشد.»
محترم پوهیالی عبدالرزاق احمدی رئیس معارف ولایت هرات هم یگانه راه پیشرفت و دگرگونی جامعه در جهت مثبت را تقویه پایه های سیستم تعلیم و تربیه در جامعه خواندند.
شایان ذکر است: متوسطه مذکور در مساحت موازی ۱۸۰۰ مترمربع زمین بناء یافته که دارای ۸ صنف درسی و یک اتاق اداری می باشد.

سرمقاله:

## سال نو به انتقال میلیونها جلد کتب درسی آغازگردید

خداوند لایزال را سپاسگزاریم که با گذشت یک سال دیگر در تقویمش نوع بشر را با اسرار نهفته و پنهان خلقت اش آشنا ساخت و با معرفت گوشه های ناشناخته زندگی طبیعی و اجتماعی بر تظاهر سلطنت و پادشاهی شاندارش افزود و قلوب چیز دانان و چیز فهمان را گزیده تر و مسخر تر نمود.

نظام معارف جمهوری اسلامی افغانستان سال ۱۳۹۶ تعلیمی را با یک عالم أمید برای فردای درخشان کشور محبوب مان افغانستان با نواختن زنگ مکتب آغاز نمود، میلیونها شاگرد دختر و پسر به مراکز تعلیمی و تربیتی سرا زیر گردیدند و یک بار دیگر کوچه های شهر و دهات با سرو صدا و عبور و مرور اطفال و جوانان مکتب رو مزین گردید و همه برای کسب علم و دانش می تپند، رهبری وزارت معارف بصورت کل و ریاست اطلاعات و نشرات وزارت معارف بصورت اخص با آمادگی کامل و متفاوت تر از سالهای گذشته با تمام نیرو، کار شبانه روزی و مساعدت و همکاری همه جانبه مقام عالی ریاست جمهوری اسلامی افغانستان توانست میلیونها جلد کتابهای مورد نیاز مکاتب ولایات کشور را با استفاده از وسایط نقلیه اردوی ملی جمهوری اسلامی افغانستان که به امر شخص رئیس صاحب جمهور جلالتمآب اشرف غنی جهت انتقال کتب درسی توظیف گردیده است، در اسرع وقت به ولایات کشور انتقال دهد. کارمندان ریاست اطلاعات و نشرات وزارت معارف ۲۴ ساعت فعال هستند از طرف شب پلان و پروگرام انتقال کتب مورد نیاز ولایات را تهیه مینمایند و از طرف روز بارگیری و انتقال صورت می گیرد که ان شاءالله این پروسه در اسرع وقت تکمیل خواهد گردید دراین انتقالات از تمام امکانات ، وسایط ترانسپورتی وزارت معارف نیز استفاده صورت می گیرد تا آنجا که به وزارت معارف ارتباط پیدا میکند رهبری وزارت معارف شب و روز کار مینمایند تا سهولت های ارزشمند تعلیمی و تربیتی را برای اولاد وطن فراهم نمایند ونگذارد وقت گرانبهای تعلیمی و تربیتی اطفال و جوانان کشور ضایع گردد.

توقع ما از والدین گرامی، استادان، معلمان و ملا امامان مساجد و در مجموع کافه ملت مسلمان کشور اینست تا دست بدست هم داده از حریم معارف که بدون شک مراکز علم و معرفت الهی است و سر فرازی وطن محبوب مان افغانستان به آن وابسته است دفاع نمایند و به هیچ کس اجازه ندهند تا با مسدود کردن دروازه های معارف سد راه پخش و گسترش علم و دانش که حصول آن بالای هر مرد و زن مسلمان فرض است، گردند.

## په هرات کې د يوه ښوونځي نوې ودانۍ ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه

د هرات ولايت د انجيل ولسوالۍ د شيخ بهاءالدين عمر جغارګي ليسې نوې جوړه شوې ودانۍ د يو لړ مراسمو په ترڅ کې د زده کوونکو پرمخ پرانيستل شوه.



د ښوونځي نوې ودانۍ ۶ درسي ټولګي، دوه اداري خونې، کمپيوټر خونه او نورې اړينې آسانتياوې لري. د ښوونځي پر نوې ودانۍ يو ميليون افغاني لګښت راغلی، چې د N.R.C موسسې له لوري ورکړل شوی دی. د شيخ بهاءالدين عمر جغارګي ښوونځي کې اوسمهال ۱۵۰۰ تنه زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي، چې د تدريس چارې يې د ۴۰ تنو استادانو لخوا پر مخ وړل کېږي. د نوې ودانۍ له پرانيستو سره د ښوونځي زده کوونکو ته د خوندي تدريسي چاپيريال اسانتياوې برابرې شوي دي.

د ياد ښوونځي د پرانيستو مراسمو کې د هرات د پوهنې رياست او دولتي ادارو مسوولينو، د سيمې يو شمير قومي مشرانو، ښوونکو او زده کوونکو ګډون کړی وو.

د لومړي مخ پاتې

## د پوهنې وزير د...

کار خای کې د چين له سفير ښاغلي ياوجينګ سره هم وکتل. د پوهنې ښاغلي وزير د هېواد له ښوونيز نظام سره د چين له مرستو مننه وکړه او هيله يې وښوده، چې دغه هېواد به په بلابلو برخو کې له پوهنې وزارت سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

کابل کې د چين سفير ښاغلي ياوجينګ د افغانستان له معارف سره د خپلو مرستو پر دوام ټينګار وکړ، څرګنده يې کړه، چې د افغانستان له پوهنې وزارت سره به د ښوونکو او اداري کارکوونکو د ظرفيتونو په لوړولو کې مرسته او همکاري وکړي.

ښاغلي ياوجينګ زياته کړه، چې هېواد به يې په کابل کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو د يو باب مرکز د جوړېدو چارې هم ژر پيل کړي.

په دغو جلا جلا کتنو کې د يادو دواړو هېوادونو سفيرانو د افغانستان د پوهنيز نظام د پياوړتيا او پراختيا په بلابلو برخو کې د تخنيکي او مالي مرستو د دوام ژمنې وکړې.

د لومړي مخ پاتې

## پوهنې وزارت له...

دغه راز به د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختيا اداره د خه باندي ۴۰۰ زره امريکايي ډالرو په ارزښت د کابل او ننګرهار په ۵ ښوونځيو کې د عمومي زده کړو د (۱۲-۷) ټولګيو او د نيمه لوړو زده کړو (۱۴-۱۳) ټولګيو ۵۰۰ زده کوونکو او ۲۵ تنه ښوونکو ته د ۱۴ مياشتو په موده کې د تشبث مضمون د مهارتونو د پياوړتيا په موخه روزنه ورکړل شي.

له سنايي انکشافي موسسې سره د شويو دوو تړونونو له مخې، چې ټولېز ارزښت يې نژدې ۱۲۰ زره امريکايي ډالرو ته رسيږي د فارياب ولايت د ۷ ولسواليو په ښوونځيو او ديني مدرسو کې به د سولې مضمون او د ياد ولايت په ميمنه ښار او ۷ ولسواليو کې ۲۴ د سواد زده کړو ټولګيو او د ۱۰ بابه سواد زده کړو مرکزونو د جوړېدو اسانتياوې برابرې کړي. وروسته د يادو موسسو استازو هم پر خپل وار خبرې وکړې او د پوهنې وزارت له پروګرامونو د ملاتړ ترڅنګ يې د پوهنې په بلابلو برخو په ځانګړې ډول د تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د مرستو او همکاريو ژمنه وکړه.

بقیه صفحه اول

## سنگ تهداب انستیتوت...

و مسلکی برای جوانان اعم از ذکور و اناث ستایش نموده و به تداوم همکاری های کشور متبوعش به وزارت معارف وعده سپرد. هم چنان جانب چینایی وعده نموده اند که استادان این انستیتوت در آن کشور آموزش های تخنیکی و حرفوی را فرا خواهند گرفت. کمپلیکس تعلیمات تخنیکی و مسلکی دارای ۵ تعمیر اساسی بوده که دو باب آن تدریسی، دو باب تعمیر لیلیه و یک باب آن تعمیر اداری می باشد، که در سه سال آینده اعمار می گردد. علاوه بر آن این کمپلیکس دارای میادین ورزشی، ساحه سبز و دیگر ملحقات ضروری نیز می باشد.

کمپلیکس مذکور ۶۵ اتاق درسی، سه باب لابراتوار کمپیوتر، ۱۰۵ اتاق لیلیه، ۲۵ اتاق اداری همراه با تالار بزرگ کنفرانس ها، کتابخانه مجهز، لیلیه دختران و پسران بصورت جداگانه، یک محراب مسجد شریف می باشد. شایان ذکر است که کمپلیکس تعلیمات تکنالوژی افغان با هزینه نزدیک به ۳۴ میلیون دالر امریکایی به کمک مالی کشور چین اعمار می گردد وهم چنان با تمام ضروریات و تجهیزات آن دارای لیلیه به ظرفیت ۸۰۰ محصل نیز می باشد.

بقیه صفحه اول

## سنگ تهداب انستیتوت...

قابل یاد آوریست که ساخت و ساز این چنین نهاد ها و تربیت نسل جوان در ترقی و شکوفانی کشور محبوب مان افغانستان رول تعین کننده دارد.

## توزیع ۵۰۰ هزار جلد کتاب درسی برای مکاتب ولایت جوزجان آغاز گردید

توزیع کتاب های درسی دوره های ابتدائیه، متوسطه و ثانوی برای عموم مکاتب مرکز و ولسوالی های ولایت جوزجان آغاز شد. این کتب درسی قرار است تا ختم برج روان به دسترس شاگردان مکاتب جوزجان قرار گیرد.

کتاب های یاد شده از سوی ریاست نشرات و اطلاعات وزارت معارف به هزینه جمعاً ۱۱.۵ میلیون افغانی چاپ شده و از طریق ترانسپورت این وزارت منتقل می شود.

با توزیع این کتب مشکل کمبود کتب درسی ۱۷۵ هزار شاگرد که مشمول دوره های ابتدائیه، متوسطه و ثانوی می باشد، حل میشود.

## د لوګر د پوهنې رياست ته ښځينه تدريسي مرستياله وګمارل شوه

د لوګر د پوهنې په رياست کې د لومړي ځل لپاره يوې ميرمنې د تدريسي چارو د مرستيالې په توګه دنده پيل کړه.دغه ميرمن مينه سادات نوميږي، چې د آزادي سيالۍ له لارې ګمارل شوې او له دې مخکې د محمدآغې ولسوالۍ د ښوونکو د روزنې د حمايوي مرکز مديره او استاده وه. هغې د کابل ښار د فيض محمد کاتب په خصوصي پوهنتون کې د حقوقو او سياسي علومو په پوهنځي کې د ليسانس تر کچې لوړې زده کړې کړې دي.آغلې سادات د لوګر ولايت د پوهنې رييس ښاغلي انجنيرمحمد اکبر ستانکزي د ولايت مقام د جندر آمرې آغلې سهيلا سپيڅلي او ددې ولايت د ښځو چارو رييسې آغلې شيما زر له خوا د ياد رياست کارکوونکو ته ور وپيژندل شوه. ميرمن سادات د ولسمشر محمد اشرف غني د هغو لارښوونو له مخې، چې پوهنې وزارت ته يې د پوهنې په ولايتي رياستونو کې د نارينه تدريسي مرستيالانو پر ځای د ښځينه تدريسي مرستيالانو د ګمارلو په اړه کړې وې، ټاکل شوې ده.

## بادغيس کې ښوونکو ته روزنيز ورکشاپ پيل شو

د بادغيس ولايت د مرکز او يو شمېر ولسواليو د ښوونکو د روزنې ۱۵ تنه استادانو ته ۷ ورځنی روزنيز ورکشاپ پيل شو. په دې ورکشاپ کې ښوونکو ته ښول کيږي، چې څنګه ماشومانو ته يو په زړه پورې او خوندي تدريسي چاپيريال برابر کړي. دا روزنيز ورکشاپ د ملګرو ملتونو د ماشومانو ملاتړ اداري يونيسف په مالي مرسته جوړ شوی، چې د قلعه نو ښار د دارالمعلمين او د قاديس او آبکمري ولسواليو د ښوونکو د روزنې الحاقيو ۱۵ تنه ښوونکې پکې برخه لري.

د ورکشاپ ګډونوالو ته به د ماشومانو لپاره په زړه پورې او خوندي درسي چاپيريال د برابرولو د لارو چارو په اړه ۷ ورځني روزنه ورکړل شي.

په هغه غونډه کې چې د قلعه نو ښار د ښوونکو د روزنې تالار کې جوړه شوي وه، د بادغيس د پوهنې رياست سرپرست عبدالقيوم ساجد خبرې وکړې او د ماشومانو لپاره يې د دوستانه ښوونې او روزنې روان پروګرام وستايه. د يو بل خبر له مخې بادغيس کې د حق الزحمه ښوونکو رقابتي آزموينه هم واخيستل شوه. په دې آزموينه کې ۳۵۰ تنو ګډون کړی وو، چې د يوې رڼې پروسې په پايله کې به ۲۱۰ تنه د ياد ولايت د مرکز او ولسواليو په ښوونځيو کې د حق الزحمه ښوونکو په توګه وګمارل شي.

# سخنان آندرو متیوس

ما برای یادگیری به دنیا آمده ایم و جهان، معلم ماست وقتی در درسی مردود می شویم باید دوباره ثبت نام کنیم... و دوباره! تا درس امروز را نیاموزیم به صنف بالاتر نمی رویم و درسهای دنیا را پایانی نیست!
ماموریت تو در زندگی تغییر جهان نیست. تو مامور تغییر خویشتنی. و تمامی راه حل ها در درون توست.
هدفها ارابه هایی هستند که با سوار شدن بر آنها می توانیم از اکنون خود فراتر رویم ، ما نیازمند هدفیم نه بخاطر آنچه برای ما به ارمغان می آورد بلکه بخاطر آنچه برایمان انجام می دهد.
جهان هستی منصف و عادل است،برداشت امروز ما از زندگی حاصل کشت های دیروز ماست.
شکست، آسیب می رساند اما این آسیب زمانی شدیدتر است که بدانیم حداکثر توان خود را به کار نبرده ایم
هر جا که هستید همان جا نقطه آغاز است،تلاش بیشتر امروز،سازنده فردای متفاوت شماست.
یکی از آسانترین راهها برای داشتن احساس خوب درباره خود، قدردانی کردن از خوبیهای دیگران است

# زن

ارسالی: حمید

گفتند : زن خورشید است .گفتم بلی ،خورشید است ولی گرمتر از خورشید که شب وروز جهان راگرم میسازد .
گفتند: زن زنده گی است ،گفتم بلی زنده گی است و زنده گی بدون او مفهومی ندارد .
گفتند :زن جهان است .گفتم بلی جهان است که با یک دستش گهواره و با دست دیگرش جهان را میجنباند.
گفتند :زن نور است .گفتم بلی نور است ولی روشنتر از نور که با نورش دنیا را روشن میسازد و کانون خانواده را رونق میبخشد.
گفتند:زن امید است.گفتم بلی امیدی است پایدار که خود همه امید ها را برآورده میسازد .
گفتند :زن گل است ،گفتم بلی.گلی است زیبا و قشنگ که با وجودش فضا را دلاویز ومشام را معطر مینماید.
گفتند :زن قدرت است .گفتم بلی قدرت است که با قدرت ترین اشخاص دنیا را بدنیا آورده .
بالاخره گفتند زن مادر است ،گفتم بلی او مادر است و بهشت درقدوم مبارک او نهفته است .

# مادر

ارسالی:عبدالنجیب

وقتی چشم به جهان گشودم. قلب کوچکم مهربانی لبخند و نگاهت را که پر از صداقت و بی ریایی بود احساس کرد. دیدم زمانی را که با لبخندم لبخند زیبائی بر چهره خسته ات نشست و دنیایت سبز شدو با گریه ام دلت لرزید و طوفانی گشت. از همان لحظه فهمیدم که تنها در کنار این نگاه پرمهر و محبت است که احساس آرامش و خوشبختی خواهم کرد. مادر عزیزم

# حکایت دنیا

ارسالی:عابده

قطره عسلی بر زمین افتاد، مورچه ی کوچکی آمد و از آن چشید و خواست که برود اما مزه ی عسل برایش اعجاب انگیز بود، پس برگشت و جرعه ای دیگر نوشید... باز عزم رفتن کرد، اما احساس کرد که خوردن از لبه عسل کفایت نمی کند و مزه واقعی را نمی دهد، پس بر آن شد تا خود را در عسل بیاندازد تا هر چه بیشتر و بیشتر لذت ببرد... مورچه در عسل غوطه ور شد و لذت می برد... اما (افسوس) که نتوانست از آن خارج شود، پاهایش خشک و به زمین چسبیده بود و توانایی حرکت نداشت... در این حال ماند تا آنکه نهایتا مرد...
بنجامین فرانکلین میگوید: دنیا چیزی نیست جز قطره عسلی بزرگ!
پس آنکه به نوشیدن مقدار کمی از آن اکتفا کرد نجات می یابد، و آنکه در شیرینی آن غرق شد هلاک میشود...
این است حکایت دنیای ما

ارسالی: اوریا

# زندگی زیباست

زندگی زیباست اگرچه سخت است ، میدانم نمی شود معنا کرد...
زندگی زیباست اگرچه سخت است ، جاده ای است هموار...
اگرچه پرپیچ و خم است دفتری است کوچک ، اگرچه پر معناست آسمانی است آبی ، اگرچه گاهی بارانی خاطراتش زیباست ، اگرچه پر معماست و در آخر...

ارسالی: اوریا

## دوکتور عبدالرشید جلیلي د پوهنې اوویشتم وزیر

گل آغا احمدي وردگ

ښاغلی دوکتور عبدالرشید جلیلي په ۱۳۵۹ کال کې د لنډ وخت لپاره د افغانستان د پوهنې وزیر په توګه دنده اجرا کړې ده. ښاغلی عبدالرشید جلیلي د عبدالجلیل زوی دی چې ۱۳۱۸ کال د کونړ په ولایت کې زیږېدلی او لومړنۍ او ثانوي زده کړې یې د هېواد په داخل کې سر ته رسولې دي. د لوړو زده کړو لپاره د امریکا متحده ایالاتو ته تللی، لیسانس او ماستري یې هلته بشپړ کړي او خپله دوکتورا یې په پخواني شوروي اتحاد کې لاسته راوړې ده. ښاغلي دوکتور عبدالرشید جلیلي لومړۍ رسمي دنده د کابل پوهنتون د کرنې په پوهنځي کې د استاد په صفت پیل کړه. نوموړي په ۱۳۴۸ کال کې مصر ته د یوې څېړنې لپاره لاړ او هلته یې خپل علمي تحقیقات بشپړ کړ. ښاغلی عبدالرشید جلیلي په ۱۳۵۸ کال کې لومړی د کابل پوهنتون د رییس په توګه ور پسې د پوهنې د وزیر په توګه و ټاکل شو. نوموړي همدارنګه د کرنې او د ځمکو د اصلاحاتو د وزیر په توګه هم دنده اجرا کړې ده. ښاغلي دوکتور عبدالرشید جلیلي په پښتو شعر او نثر کې هم ځینې آثار پنځولي دي چې موږ ته یې د دوو چاپ شوو کتابونو نومونه په لاس راغلي دي: چې د لومړي کتاب نوم (د زړه آواز) شعري ټولګه ده چې په ۱۳۸۰ کال کې چاپ شوې او د دویم کتاب نوم یې (غمیزه خنګه منځته راغله) تر عنوان لاندې په ۱۳۸۷ کال چاپ شوی دی.

# غزل

رالیږونکي: مدثر

مـــینه خنـــدا ټوکـــه ادا به بـیا لـه کومـه کـوې
سختو حالاتـو کـې دعـا به بـیا له کومــه کـوې
چې هم د وږني اوهم خوندپه کې له ژونده ډیر وې
داسـې نظـــر داســـې مســـکا به بیا له کومه کوې
غـروره پـام کـوه چـې یار درنـه خوا بدی نشي
سـاه اخیســتل د زړه درزا به بـیا له کومـه کـوې
وختـه دا څو ښکلي بې قدره نه کړې پام پرې کوه
داســـې پښــتو داسـې تـقوا به بـیا له کومه کوې
سپـوږمۍ په لمر ډیـر ظلم مه کوه که مړشي ګوره
ته به هـم خــواره شـې رڼا به بـیا له کومـه کـوې

# ارمانونه

اتل

تـــاچې زمـــا پـــه ارمــــانونو خــــاورې واړولـــې
مـــا هـــم د عشـــق پـــه کتـــابونو خـــاورې واړولـــې
هغـــه دخپـــل کلـــي رواج داســـې مجبـــوره کـــړه چـــې
هغـــې پـــه خپلـــو امیـــدونو خـــاورې واړولـــې
چـا پـه ګلبڼ کـې مـړاوي ګـل تـه د زړه وینـې ورکـړې
چـــا پـــه تنکیـــو ګلابونـــو خـــاورې واړولـــې
لا مـې پـه قبـر کـې هـر زخـم واژه خولـه نیـولې
تاســـې زمـــا پـــه پرهرونـــو خـــاورې واړولـــې
اتـــل دا ســـتا لـــه غمـــه خپلـــه شـــاعري پرېښـــوده
اتـــل د مینـــې پـــه شـــعرونو خـــاورې واړولـــې

# ښکاري

اې ښـکاري اشـنا! درتـه سـلام کـوم
پرېـږده چـې دا سـپیني مرغـۍ والـوزي
لاړې شـي جـوړې جـوړې ګلونـه شـي
ښـکلي شـي ښایسـته شـي امیلونـه شـي
واخلـې پـه وزرنـو کـې تنکـي بچـې
وموښـې سـینو کـې ګلالـې بچـې
سـپیني سـرې مښـوکي زرکنـې بچـې
پام کوه!
پـام کـوه ماشـې تـه ګـوتي مـه ور وړه!
اې ښـکاري اشـنا! درتـه سـلام کـوم
پرېږده چې دا شنو ځلګو کې وځغلي
پیغلـې د هوسـیو د دامـان پـه لـور
واړوي پیکـې د شـنه آسـمان پـه لـور
وخانـدې راتـاوې شـي مسـتي وکـړي
ورغـړي نخـرې وکـړې خوښـې وکـړي
پام کوه!
پـام کـوه ماشـې تـه ګـوتي مـه ور وړه!
اې ښـکاري اشـنا! درتـه سـلام کـوم
پرېـږده د غونچـو پـه لمـن پریـوځي
زمـوږ د کلـي بـاغ کـې د سـپرلي بلبـل
زمـــوږ د خمـــارونو شـــرابي بلبـــل
پرېږده چـې پـه سـرو مښـوکو وبـولي
زمـوږ د بـام د پاسـه د سـپرلو سـرود
بـڼ تـه د غوټیـو د ښـکالو سـرود
ځمکـې تـه د وریځـو بـارانو سـرود
پام کوه!
پـام کـوه ماشـې تـه ګـوتي مـه ور وړه!
اې ښـکاري اشـنا! درتـه سـلام کـوم
ګـوره دا بـې ژبـې مرغـان مـه ولـه
نه چې یې کوم ووړ بچی بې موره شي
تـه هـم ګـوره پـلار یـې او بچـی لـري
پیغلـه لـور ښایسـته زوی ګلالـی لـري
درد لـري ، ارزو لـري ، زړګـی لـري
نو!
اې ښـکاري اشـنا! درتـه سـلام کـوم
پـام کـوه ماشـې تـه ګـوتي مـه ور وړه

رالیږونکی: طوبا

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 210, Month April

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# بلخ کې د ۱،۲۵ میلیونه درسي کتابونو د ویش لړۍ پیل شوه

د بلخ د ولایت لېسو، منځنیو او لومړنیو ښوونځیو ته د ۱،۲۵ میلیونه ټوکه درسي کتابونو د ویش لړۍ پیل شوه، اطلاعاتو او نشراتو ریاست لخوا چاپ او بلخ ته د پوهنې وزارت د ترانسپورتی و سایطو پر مټ انتقالیږی.



چې د همدې میاشتې تر پایه پورې به دوام و مومي او په لړ کې به يې د همدې ولایت ښوونیزو موسساتو ته درسي کتابونه توزیع شي. د یادولو وړ ده، چې د دې کتابونو مجموعي قیمت ۹۳ میلیونه افغانۍ کېږي. چې د پوهنې وزارت د یا دو کتابونو په وېشلو سره به د بلخ په ولایت کې د کتابونو د لړوالي ستونزه حل شي او د همدې ولایت د ثانوي، منځنۍ او لومړنۍ دورې ۶۳۰۰۰۰ تنو زده کوونکو ته به په لنده موده کې وسپارل شي.

# سمنګانو کې د دوه ښوونځیو نوې ودانۍ پرانیستل شوې

د سمنګانو ولایت په مرکز ایبک ښار کې د خواجه اسماعیل د هلکانو لېسې او په حضرت سلطان ولسوالۍ کې د قزاقلي منځني ښوونځي ته د آلمان په مالي مرسته نوې ودانۍ جوړې او د یو لړ مراسمو په ترځ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

پر دغو دواړو ودانیو شاوخوا ۴۳ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی، چې د آلمان د GIZ موسسې لخوا ورکړل شوي دي.

د یادو دواړو ښوونځیو څه باندې ۱۰۰۰ تنه زده کوونکو تر دې وړاندې په کرايي کورنو کې زده کړې کولې، چې د نویو ودانیو له جوړېدو سره ورته مناسب خوندي تدریسي چاپېریال برابر شوی دی.

د خواجه اسماعیل ښوونځي نوې ودانۍ په دوه پوړونو کې په پاخه او اساسي ډول جوړه شوې، چې ۱۶ درسي ټولګي، ۸ اداري او دوه د ساتونکو خونې، د انګړ دېوال، د اوبو رسونې او برېښنا سیستم، د زده کوونکو لپاره ۳۲۰ پايي مېز او څوکۍ او نورې اړينې ښوونيزې اسانتياوې لري.پر دې ودانۍ د آلمان د GIZ موسسې لخوا ۳۰ میلیونه افغانۍ لګول شوې دي.

یاد ښوونځي ته په هغه درې زره متر مربع ځمکه باندې نوې ودانۍ جوړه شوې، چې د سیمې د یو معارف دوست اوسېدونکي حاجي عبدالروف لخوا معارف ته ډالۍ شوې وه.

د حضرت سلطان ولسوالۍ د قزاقلي منځني ښوونځي ته بیا په څلور جریبه دولتي ځمکه کې په پاخه او اساسي ډول نوې یو پوړیزه ودانۍ جوړه شوې، چې ۶ درسي ټولګي، ۳ اداري او د ساتونکو دوه خونې، د انګړ دېوال، د اوبو څښلو څاه، د زده کوونکو لپاره ۱۲۰ پايي مېز او څوکۍ او نورې اړوندې ښوونيزې اسانتیاوې لري. ددې ښوونځي نوې ودانۍ په سولر سیستم هم سمبال شوې ده.

پر قزاقلي ښوونځي بیا د آلمان هېواد د یادې موسسې لخوا ۱۳ میلیونه افغانۍ لګول شوې دي.

د یادولو وړ ده، چې په سمنګانو کې ۲۹۴ ښوونیز مرکزونه شته، چې نږدې ۱۲۰ زره زده کوونکي، چې ۴۸ زره يې نجونې دي پر زده کړو بوخت دي. دغو زده کوونکو ته د ۲۴۴۱ ښوونکو له لوري زده کړې ورکول کېږي.

# دست آورد های وزارت معارف طی سال ۱۳۹۵ هجری شمسی

بقیه شماره قبلی

بهبود کیفیت تعلیم و تربیه از جمله اهداف مهم است که در اولویت کاری وزارت معارف جمهوری اسلامی افغانستان قرار دارد. وزارت معارف جمهوری اسلامی افغانستان به کمک تمویل کننده گان و شرکای کاری خویش برای بهبود کیفیت نظام معارف سرمایه گذاری وسیع نموده است که به اساس آن کیفیت تعلیم و تربیه در مقایسه با سال های قبلی به مراتب بهبود یافته است. از طریق مشوره با شاگردان، والدین، معلمان، علما و کارشناسان تعلیم و تربیه و با استفاده از بهترین روش ها و تجارب ملی و بین المللی نصاب تعلیمی جدید را برای مکاتب و مدارس تدوین نموده است. کتاب های آموزشی بر مبنای روش های فعال و اشتراکی بین شاگرد و معلم تهیه شده و همه ساله بدسترس شاگردان قرار میگیرد، این روش معلمان را تشویق مینماید تا آموزش بطور جامع و شاگرد محوری صورت گیرد، کتب رهنمای معلم از صنف اول الی دوازدهم تدوین، چاپ و بدسترس معلمین قرار داده شده است این امر یکی از پیش شرط های زمینه برای بهبود کیفیت آموزش را فراهم مینماید.

برای ارتقای سطح دانش و مهارت های معلمان موجود برنامه های آموزشی قصیرالمدت تحت نام انست ها ( آموزشهای مضمونی و پیداگوژی) طی سالیان متمادی رویدست گرفته شده است که تاثیرات مثبت را در قسمت ارتقای ظرفیت معلمین بجا گذاشته است. طی سال روان بتعداد ۷۱,۰۰۰ تن معلم در برنامه آموزشی انست ششم اشتراک نموده و آموزشهای لازم را کسب کرده است. همچنان برای تربیه معلمان جدید مراکز تربیه معلم (دارالمعلمین ها و مراکز حمایوی تربیه معلم) به سطح مرکز، ولایات و ولسوالی ها توسعه داده شده و بصورت مجموعی بتعداد ۶۸,۷۵۸ محصل (۵۶ فیصد اناث) درین مراکز تحت آموزش قرار دارند که بعد از فراغت شان منحیث معلمین مسلکی در مکاتب استخدام خواهند گردید تا مشکل کمبود معلمین مرفوع گردد.

ایجاد فضای مصئون تعلیمی برای شاگردان یکی از اولویت های کاری وزارت معارف بوده و به آن توجه جدی معطوف گردیده است. به این منظور بتعداد ۱,۳۵۰ پروژه عمرانی و تجهیزاتی رویدست گرفته شده است، که شامل اعمار و ترمیم مکاتب، صنوف درسی، دیوار احاطه، تشناب و حفر چاه آب آشامیدنی و تجهیز میز و چوکی بوده است. از جمله پروژه های متذکره بتعداد ۷۰۸ پروژه تکمیل، ۷۲۱ پروژه تحت کار پروسه تدارکاتی میباشد. وزارت معارف از سال ۱۳۸۵ بدینسو بتعداد ۹,۷۳۹ پروژه ساختمانی را تحت اجرا قرار داده که از جمله بتعداد ۷,۳۳۲ پروژه تاکنون تکمیل گردیده و به بهره برداری سپرده شده است.

وزارت معارف در مسیر انکشاف مدیریت تعلیم وتربیه، ابتکارات مهم را آغاز کرده است تا تقاضا و استفاده از معلومات را منحیث یک ابزار برای تدوین پالیسی، پلانگذاری و مدیریت نتیجه محور خدمات تعلیمی در سطوح مختلف افزایش دهد.

با در نظرداشت ضرورت های عینی، تشکیلات وزارت معارف به سطح مرکز و ولایات بصورت چشمگیری افزایش یافته است، پالیسیها، لوایح و طرزالعمل های کاری تجدید نظر و انکشاف یافته است. پلان ستراتیژیک سوم معارف ترتیب و بعد از شریک سازی با شرکای کاری بیرونی و داخلی نهائی و در معرض تطبیق قرار گرفته است.

معلومات احصائیوی سال ۱۳۹۵ قبل از ختم سال مالی از طریق یک سروی اشتراکی جمعآوری گردیده و معلومات جمعآوری شده طی یک پلان منظم از طرف شرکای کاری داخلی و هم چنان براه اندازی سروی تائیدی توسط وزارت احیا و انکشاف دهات منحیث گروپ ثالث تائید و تصدیق گردید. معلومات احصائیوی بصورت دقیق در سیستم ثبت و برای استفاده کننده گان قابل دسترس میباشد.

علاوه بران در عرصهٔ جلب کمکهای جامعه بین المللی و تمویل کننده گان ملی و بین المللی نیز تلاش های خستگی ناپذیر صورت گرفته و از طریق ارتباطات دوامدار و تهیه و تقدیم طرح های لازم و مناسب، حمایت و پشتیبانی تمویل کننده گان عمده چون بانک جهانی(EQUIP)، UNICEF، UNESCO، WFP، USAID، GPE و سایر تمویل کننده گان برای بهبود وضعیت معارف و فراهم سازی زمینه دسترسی به تعلیم و تربیه اولاد وطن جلب و جذب گردیده است که این کمک ها در تطبیق پلانهای ستراتیژیک ملی معارف و رسیدن به اهداف انکشافی هزاره سوم (MDG ) و تعلیم برای همه(EFA ) نقش اساسی داشته است. که از طریق امضای موافقتنامه ها و تفاهم نامه ها این ارتباطات تامین گردیده است.

باوجود پیشرفت ها و دست آوردهای چشمگیر، هنوز هم چالش های عمده فرا روی نظام معارف وجود دارد که ذیلاً به آن اشاره میگردد.

- یک تعدادی قابل ملاحظه اطفال واجد شرایط به مکتب دسترسی ندارند؛
- کمبود معلمین مسلکی به سطح تمام برنامه ها یکی از چالشهای عمده بود که روی کیفیت تعلیم و تربیه تاثیری ناگوار بجا گذاشته است؛
- تا هنوز هم حدود ٪۵۰ مکاتب کشور بدون تعمیر میباشد و شاگردان ما در زیر خیمه و یا هم خانههای کرایی تعلیم را فرا میگیرند؛
- ناامنی یکجا با چالشهای دیگرسبب گردیده که بتعداد **۱,۰۰۶** باب مکتب ما هنوز هم مسدود و غیرفعال بماند؛
- قانون موجود تدارکات و پیچیدگی پروسه های تدارکاتی و مالی یکی از مشکلات و چالش‌های عمده نظام معارف در عرصه تطبیق پروژه‌های انکشافی است که سبب محروم شدن وزارت معارف از بسا انکشافات گردیده متأسفانه به اساس همین قانون پروژه‌های مهم عمرانی از یک الی چهار سال وقت میگیرد تا آماده فعالیت و قابل تطبیق گردد.

برای رسیده گی به این همه چالش ها و عرضه خدمات باکیفیت پلان ستراتیژیک سوم ملی معارف از سال (۱۳۹۵-۱۴۰۰) ترتیب و تحت تطبیق قرار میگیرد تا بتواند به اهداف معارف که در قانون اساسی جمهوری اسلامی افغانستان سال ۱۳۸۲ استراتیژی انکشاف ملی افغانستان و اهداف انکشافی هزاره سوم (MDG) افغانستان انعکاس یافته، نائل گردد

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"

کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار

خبریال: - محمد اشرف رسولي - غلام سخي محمدي

کمپوز او ډیزاین بریالی رحمانزی

شمیر: ۵۰۰۰

دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)

ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com

پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت